# مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ، وَمَا زَادَ اللهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ». "صدقه مال نه کموي، او الله تعالی په بخښنې سره بنده ته نه زياتوي مګر عزت، او هېڅوک د الله تعالی په وړاندې تواضع نه کوي مګر دا چې الله تعالی يې لوړوي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ، وَمَا زَادَ اللهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ». "صدقه مال نه کموي، او الله تعالی په بخښنې سره بنده ته نه زياتوي مګر عزت، او هېڅوک د الله تعالی په وړاندې تواضع نه کوي مګر دا چې الله تعالی يې لوړوي".

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې: صدقه مال نه کموي، بلکې له هغې څخه آفتونه لرې کوي او الله تعالی يې خاوند ته په بدل کې لوی خير ورکوي، نو دا زياتوالی شو، نه کموالی. او د غچ اخستلو او يا رانيولو د توان سره سره بخښنه کول د انسان قوت او عزت زياتوي. او هېڅوک د الله جل جلاله لپاره عاجزي او خاکساري نه کوي؛ نه د چا له وېرې، نه د جوړ جاړې په خاطر او نه د هغه څخه د ګټې په لټه کې، مګر دا چې د هغه اجر به د مرتبې او شرف لوړېدل وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5512

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee